مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۲/۰۹

# «شرم له سپي»

## د عبدالمالک بېکسیار «چکرنامه»

### لومړۍبرخه




د ۲۰۲۶ ام کال د جنورۍ پر ۲۴مه، د ډنمارک په کوپنهاګن کې د ګڼشمېر افغانفرهنګیانو په ګډون د بیکسار د دریو نوو چاپ‌شوو کتابونو د مخکاته محفل و. کتابونه خرڅلاو ته اېښودل شوي وو، خو بازار یې لکه تل څکه سوړ و چې موږ په ټول کې د مطالعېوال نه یو، خو لاپوشاپو کې مخکښان یو. په دې محفل کې ما د ښاغلي بېکسیار نوي چاپ شوي کتابونه ترلاسه کړ.

د ترلاسه‌کولو په سبا یې لوستلو ته کېناستم، د شعرونو د دوو ټولګو لوستل مې بل وخت ته پرېښودل، لومړۍ مې د بیکسیار نثر ته تلوسه وه، څکه مې «شرم له سپي» راواخیست او لوستل مې یې پیل کړل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په همدې ورځ زه باید له کوپنهاګن نه بېرته د بس په سورلۍ د اوسېدو کلي ته تللی وای او کورته تررسېدو پورې درې ساعتونه او پنځه‌لس دقیقې وخت لګېده. ما دا وخت د مطالعې له پاره یوزرین چانس وګڼه او د یاد کتاب لوستل مې پیل کړل. د ککرۍ په ګومبزه کې مې د مؤلف یا شاعر دې شکایتونه هم ازانګې کولې چې ځوک کتاب نه‌لولي، د هغو خاطر ته مې هم پام وکړ.

ما د بېکسیار صاحب منثور کتاب ځکه د لوستلو له‌پاره انتخاب کړ چې پخوا مې د ده د شعرونوټولګي له نظره تېرې کړې وې او د شکل او محتوی په باب مې یې د «د بېکسیار د ډک زړه څپې )د عبدالمالک بېکسیار د ژوند او شاعرۍ لنډ جاج(» تر سرلیک لاندې یوه مفصله مقاله لیکلې او خپره کړې وه.

د بېکسیار «شرم له سپي» د کتاب لیکلو انګیزه، د ځینو کسانو له خوا د تاریخي پېښو او سترګو لیدلو واقعاتو د نه لیکلو او نه ثبتولو د ګیلو په پایله کې، رامنځته شوې او د دې ګیلو یادونه تر بېکسیار مخکې استاد سعدالدین شپون کړې ده، شپون د خپلې‌لیکلې بیوګرافی (و نه و، یو شپون و) په ۸۹ ام مخ کې د پوهاند محمدرحیم الهام نوم داسې یاد کړی دی:

«... په کال ۲۰۰۱ کې چې الهام د امریکا په اریزونا کې و، ما په تلفون کې ورته خواست وکړ چې هسې وزګار ناست یې، ولې د خپل ژوند خاطرې نه لیکې. راسره وې هم منله، خو په کال ۲۰۰۳ کې چې د سرطان په ناروغی اخته و او ما ورته ډېر تلفون کاوه، یوه هفته یې مرګ ته پاتې وه، لا یې دا کتاب نه و پیل کړی...»

(شپون، سعدالدین، و نه و، یو شپون و، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ ل/ ۲۰۰۵م کال، ۸۹ ام مخ)

الهام صاحب سره ځو کاله ما کار کړی دی، د شپېتمې لسیزې د پیل په کلونو کې کله چې الهام صاحب د کابل‌پوهنتون د علمي مجلې (اجتماعي علوم) مسؤل مدیر و، زه یې مرستیال وم، په همدې وخت کې یوه موده د ده په اجازه د غیررسمي اسیستانت په توګه، د ژورنالیزم پوهنځي هغه ټولګي ته ورسره تلم چې ده د «هنري‌نقد» مضمون تدریساوه، الهام ډېر پوه او ډک سړی و، دی د کلمې په واقعي معنی یوپوهاند و، د ډېرو مهمو پېښو شاهد پاتې شوی و، خو د شپون صاحب خبره یې یا ونه منله، یا نوره ناوخته وه او د نه‌لیکلو په وجه یې هرڅه ګور ته یوړل.

بیکسیار هم د «چکرنامې» په مقدمه کې د ځینو هغو کسانو د ژوندپېښو د نه لیکلو نه سر ټکولی دی چې د ټولنیز ژوند په هررنګه ناستو کې غږېږي، د هغو خبرو د لیکلو چې ورته وواېي، بیا وایي چې: «والله پر موږ خو اوس تېره ده...»

دا د بیکسیار خپلې خبرې دي چې د «شرم له سپي» ټولګي په مقدمه کې راغلي دي:

«په هره لویه او وړه راټولېدنه، واده، کوژده، مړی، خیرات، جنازه، فاتحه به چې وربرابر شوې د وزیرانو، رئیسانو،والیانو، جنرالانو او نورو لوړ پوړو مامورینو او منصبدارانو به هېڅ کمی نه و.

په همدغسې لویو او وړو وړو ځانګړو او شخصي ناستو کې به ډېر ځله داسې خبرې وشوې چې کم له کمه ما به له ځان سره دا ویل چې دا خو د افغانستان د معاصر تاریخ یوه برخه، که برخه نه نو یوه پاڼه، که پاڼه نه نو یو پاراګراف یا حتی یوه لیکه خو کېدایشي.

دا سړی نو دا ولې نه لیکي چې سباني هم پرې خبر شي؟

(بیکسیار عبدالمالک، شرم له سپي، کلاسیک خپرندویه ټولنه، ۱۴۰۴ هـ ل ـ ۲۰۲۵ م کال، لومړی‌مخ)

خو بیکسیار د خپلو سترګو لیدلو حالونو ځینې برخې ولیکلې، دی د خپلو لیکنو دې ټولګې ته نه د خاطروټولګه وایي، نه یون‌لیک، بلکې دلته یې یوبدعت کړی دی چې د خپل ژوند د سترګو لیدلو حالونو یوه‌برخه یې لیکلې ده اود «شرم له سپي، چکرنامه» نوم یې ورکړی دی. د دې لیکنو په باب ده ما ته وویل چې:

«... داسې ژانر باید په پښتو ادب کې ثبت‌کړو چې نه خاطره وي، نه سفرنامه؛ دا باید د دواړو په منځ کې یو څه وي.»

د همدې دلیل له مخې ده خپلو لیکنو ته «چکرنامه» نوم ټاکلی دی. دا چې د «چکرنامه» ژانر به څوک ورسره ومني که نه او عام به شي که نه، دا به وخت معلوم کړي؛ خو بیکسیار د خپل ځانګړي ادبي سبک له مخې داسې یو نوښت کړی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د نوو کتابونو تر مخکاته ځو ورځي وروسته (۲۰۲۶/۰۲/۰۴) یې د «غیبت» په نامه، د یوه نوي ژانر په باب یونوي وړاندیز هم سرراپورته کړ:

«... وړاندیز مې د غیبت په نوم د یو جلا ژانر رامنځته کول و.»

د «چکرنامه» له خپرېدو سره سم بېکسیار ته ورته د ځانګړيسبک بل لیکوال نعمت‌الله صدیقي بیا د بېکسیار چکرنامي ته «د نثر یا کالم او تبصرو» ټولګه ویلي ده او د دې ترڅنګه یې ویلي دي چې:

«... دا نور پر جالبو جالبه وه، چې د یوه خورا ښه شاعر د شعر ترڅنګ یې نثر یا لیکوالي هم ښه او عالي ووینې.»

تر پاسنیو خبرو وروسته نعمت‌الله صدیقي په واضح ډول ویلي دي چې د بېکسیار «چکرنامه» د کالمونو ټولګه ده:

«زه په همدې اساس د بېکسیار دا چکرنامه د ادبي، سیاسي او فرهنګي موضوعاتو هغه کالمونه بولم، چې نه یې د بېلا بېلو موضوعاتو کمی په کې دی او نه یې د نورو ادبي ژانرونو له خونده کمرنګه اخیستنه کړې؛ بلکې ښېخي د یوه عالي کالم په توګه عالي بې مثاله کالمونه لیکلي دي.»

نعمت‌الله صدیقي د بیسکیار «چکرنامه» ځکه کالم ګڼي چې په دې لیکنو کې د کالم ټول شکلي اصول مراعات شوي دي او د موضوع له پلوه هم ښه متنوع دی. صدیقي د خپل بحث په ترڅ کې هیله څرګنده کړې ده چې:

«کاش زموږ لیکوال د یوه متنوع او پراخ فورم په توګه کالم لیکنې ته مخه کړي.»

نعمت‌الله صدیقي د خپلو خبرو په پای کې مبتدي لیکوالو ته د «چکرنامه» د لوستلو سپارښت کوي:

«زه یې د ځوانو او مبتدي لیکوالو لپاره د دې کتاب لوستل ځکه مهم بولم، چې د لیکوالی طرز او فکري او شعوري دواړه برخې یې قوي دي او زده کړه تري کېدای شي.»

د «چکرنامي» د لیکلو سبک د شپون صاحب د «و، نه نه و، یوشپون و» له سبک نه متاثر ښکاري؛ خو د بېلوالي ټکي هم لري.

بېکسیار د «شرم له سپي» په کتاب کې په افغانستان کې او تر هبواده بهر د سترګو لیدلي حالونه، ځینې خاطرې، ځیني اورېدلي کیسي او عیني واقعیتونه، په نریواله کچه پېښ شوي مسایل او... په لیکلو، د خپل ځانګړي سبک په چوکاټ کله په کمیدي یا تراژیکه بڼه او ډېرځلي په انتقادي بڼه په خوندور هنري نثر لیکلي دي. بېکسیار لکه د شعر، په نثر کې هم د مطالبو او پېښو د بیان له پاره ځانته جلا د بیان طرز لري او پرته د چا د خاطرساتلو او بې‌لحاظه خپلې انتقادي خبرې لیکلي دي.

د بېکسیار د «چکرنامه» مطالب او پېښي چې ده په هنري بڼه ثبت کړي دي، هماغه مطالب دي چې پخوا به خلکو خاطرې ورته ویلي او په پښتو ادب کې بېلګي ثبت شوي هم دي. د بېکسیار د «چکرنامه» د مطالبو تومنه او د خاطرو د مطالبو تومنه یوه ده د ټولنیز ژوند متن او پېښي لیکل یې اړین دی چې هم د انسانانو سترګو لیدلي حالونه او تجربې نورو نسلونو ته ورولېږدوي او د تاریخ لیکنې له‌پاره د لومړی لاس مواد بڼه لري. دلته اړینه بولم چې د خاطرې او خاطره لیکنې په باب رڼا واچوم:

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ